# څوک څوک دی؟

وروسته لدې چې تاسې انګلستان ته راورسيږئ تاسې به ډېرى مختلف لوى افرادو سره ووينئ. مګر دا ټول څوک دي؟ دا لارښود تاسې سره مرسته کوي چې پوهه شئ دغه افرادکومې مختلف دندې ترسره کوي، او هغوى تاسې سره څنګه مرسته کولی شي









دا فاکټ شيټ د هغه ماشومانو لپاره ډيزاين شوی دی چې انګلستان ته راغلي او پخپله د پناه غوښتنه کوي.

که تاسې نه پوهيږئ نو د يوه فرد څخه غوښتنه وکړئ چې دا درته په بشپړ ډول ولولي.






پدې جزوه کې خلک پدې توګه معرفي شوي چې تاسې ورسره ملاقات کوئ. دوی ټول مختلف دندې او رولونه لري مګر ځینې وختونه دا ورته یا یوبل پورې تړلي لیدل کیدی شي.

پدې جزوه کې راغلي ځینې لوی افراد د خپلې نورمال دندې په لړکې د نورو مسلکي افرادو سره ستاسې په اړه معلومات شریکوي. دوی دا کار د دې لپاره کوي چې یوځای کار وکړی شي او ترڅو ستاسې سره غوره مرسته وکړي او ستاسې ساتنه وکړي.

ځینې لوی افراد په نورمال ډول نشي کولی ترهغه وخت پورې ستاسې معلومات د نورو مسلکي افرادو سره شریک کړي چې تاسې ورته اجازه ورنکړئ. عموماً تاسې پدې تړاو انتخاب لرئ چې دوی کوم معلومات شریکولی شي، غیرلدې که معلومات ستاسې یا کوم بل شخص ته د جدي خطر په اړه وي.

# ژباړونکی

## هغوی څوک دي

د یوه ژباړونکي (interpreter's) دنده دا ده چې داډ لاسته راوړي **ټول هغه ټکي** چې تاسې یې وایی په **روښانه ډول** هماغسې انګلسي ژبې ته وژباړي چې تاسې ویلي دي، او همدارنګه ټول هغه ټکي چې په انګلسي ژبه تاسې ته ویل شوي په روښانه ډول ستاسې خپلې ژبې ته وژباړي **ترڅو تاسې وربانديې پوهه شئ.**

## هغوی څه کوي

د لوی افرادو **سره نږدې په ټولو ملاقاتونو** او ناستوکې د **ژباړونکي** د موجودیت احتمال شتون لري چې **تاسې سره مرسته وکړي خبرې وکړئ** او همدارنګه تاسې **حق لرئ چې د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.** ژباړونکی پدې تړاو روزنه نلري چې تاسې ته قانوني مشوره درکړي، او **هغه باید تاسې ته ونه وایی چې څه وکړئ یا څه ووایی.**

که تاسې د خپل ژباړونکي په خبرو سم **نه پوهیږئ،** که تاسې فکرکوئ چې هرڅه نه ژباړي، یا تاسې کومې نورې اندیښنې لرئ نو بایدکوم چا ته یې ووایی. که تاسې دکوم دلیل له مخې د ژباړونکي سره راحت نه یې، نو تاسې **حق لرئ** چې د بل ژباړونکي لپاره غوښتنه وکړئ.





# د مهاجرت افسر

## هغوی څوک دي

د مهاجرت افسر (immigration officer) دنده دا ده چې ډاډ لاسته راوړي د انګلستان د **مهاجرت قوانین تعقیبیږي.** د مهاجرت افسر د پولیسو افسر سره **ځینې ورته واکونه لري،** مګر هغه پولیسو پورې تړاو نلري: هغوی دکورنیو چارو وزارت (Home Office) په نوم د **انګلستان دولتي نهاد لپاره کارکوي.** هغوی دنده لري چې ډاډ لاسته راوړي تاسې خوندي او ښه يې.

## هغوی څه کوي

کله چې تاسې انګلستان ته راورسیږئ د مهاجرت افسر به تاسې د **خوندیتوب** ځای کې ځای په ځای کړي ترڅو تاسې د سفر څخه ښه شئ. د مهاجرت افسران پدې اړه **لومړني معلومات** ترلاسه کوي چې تاسې څوک يې دکوم ځای څخه راغلي يې، او تاسې ټولنیزو خدماتو ته راجع کوي چې هغوی ستاسې لپاره پاملرنه برابرکړي. هغوی ستاسې د پناه ادعا هم راجسترکوي. د مهاجرت دا افسران باید تاسې سره مرکه ونکړي او پدې اړه پریکړه ونکړي چې آیا تاسې په انګلستان کې پاتې **کیدی شئ مګر تاسې باید تل هغوی ته** رښتیا ووایی **او هغوی باید هغه څه ولیکي چې تاسې يې ورته وایی.**



# ټولنيزکارکونکی

## هغوی څوک دي

يو ټولنيزکارکونکی (social worker) يو شخص دی چې په خپلې ځايی ټولنه کې د ماشومانو د مرستې مسؤليت په غاړه لري. لدې چې تاسې يوازې يې اوکورنۍ نلرئ چې ستاسې پاملرنه وکړي نو ځايی اداره ستاسې د پاملرنې لپاره مسؤليت په غاړه لري. هغوی به ډاډ لاسته راوړي چې تاسې د ژوندکولو لپاره خوندي ځای، خواړه، کالي، د روغتيا پاملرنه، تعليم او نور ملاتړ لرئ چې تاسې ورته د ماشوم په حيث اړتيا لرئ. دې ته **پاملرنه کيدل** يا **په پاملرنه کې ويل کيږي**.

## هغوی څه کوي

ټولنيزکارکونکی ستاسې د پاملرنې په اړه پريکړې کوي. ستاسې ټولنيزکارکونکی بايد لږترلږه په **هرو ٦ اونيو** کې تاسې سره ليدنه وکړي. هغوی بايد تاسې ته **غوږ شي** او ستاسې د پاملرنې لپاره پلان کې بايد **ستاسې هيلې** او **احساسات شامل کړي.** هغوی بايد **پريکړې تشريح کړي او ډاډ لاسته راوړي** چې ستاسې غږ څنګه واوريدل شي. که تاسې په انګلسي ژبه نه پوهيږئ نو هغوی بايد تل تاسې سره غږيدو لپاره ژباړونکی وکاروي. تاسې شايد له يو څخه ډير ټولنيزکارکونکي ولرئ ځکه ځينې وختونه هغوی بدليږي. د خپل ټولنيزکارکونکي **نوم او شميره تل له** ځان سره وساتئ.





# پاملرنه کونکی

## هغوی څوک دي

یو پاملرنه کونکی (foster carer) **هغه څوک چې هغه ماشومانو ته د پاملرنې لپاره خپل کور پرانیزي چې کورنۍ نلري ترڅو د هغوی پاملرنه وکړي**

## هغوی څه کوي

پاملرنه کونکي خوندي او مصؤن کور وړاندې کوي. **هغوی هره ورځ ستاسې پاملرنه کوي**، تاسې ښوونځي ته وړي او تاسې ته هغه شیان برابروي چې اړتیا ورته لرئ لکه **کالي او خواړه.** پاملرنه کونکی د څو نورو لوی افرادو سره هم اړیکه لري چې ستاسې ژوند کې دخالت لري لکه ستاسې ټولنیزکارکونکی (social worker)، ستاسې عمومي ډاکټر (GP)، ستاسې **وکیل** او ستاسې **ښوونکي.** ممکن د هغې دکورنۍ ژوند هغسې نه اوسي د څنګ ژوند سره چې تاسې اشنا یی، اوکه چیرې دا ستاسې لپاره مشکل وي نو تاسې باید خپل احساسات شریک کړئ ترڅو درسره مرسته وکولی شي.



# ټاکل شوی رنځورپال او GP (عمومي ډاکټر)

## هغوی څوک دي

یو ټاکل شوی رنځورپال (designated nurse) هغه رنځورپال دی چې د ټولنیز خدماتو لخوا پاملرنه کیدونکي **ماشومانو په ستونزو او مسایلو** باندې پوهیږي. هغه به ستاسې ټولنیز کارکونکي سره د دې ډاډ لپاره کارکوي چې ستاسې د **روغتیا اړتیاوې** پوره شي.

**هغه ډاکټر** (GP) دی چې په یوه ځانګړې سیمه کې میشت خلکو ته **عمومي طبي مشورې او درملنه** وړاندې کوي.

## هغوی څه کوي

ټاکل شوی رنځورپال ستاسې معاینه کوي اوګوري چې آیا تاسې کومې روغتیایی ستونزې لرئ. دې ته لومړۍ ارزونه ویل کیږي. انګلستان ته ستاسې د **راتګ** څخه وروسته هرڅومره ژر چې ممکن وي هغه باید دا ترتیبات وکړي. تاسې کولی شئ **وړیا د خپل** GP سره وګورئ که چیرې تاسې د **روغتیا ستونزې** ولرئ یا نورې ستونزې ولرئ لکه د ډیر **خفګان احساس وکړئ یا ویده کیدو کې مشکل ولرئ**. تاسې اړ نه یې په انګلستان کې د طبي درملنې لپاره پیسې تادیه کړئ، پشمول د غاښونو ډاکټر یا عینکو جوړونکي.

ویره مه لرئ او **هغه ستونزې** چې تاسې ورسره مخ کیږئ په اړه یې د رنځورپال یا خپل GP سره **صادقانه اوسئ**. ستاسې ټاکل شوی رنځورپال باید ستاسې لپاره د **ژباړونکی** بندوبست وکړي چې ستاسې GP سره ملاقاتونوکې تاسې سره ملتیا وکړي.








ممکن تاسې د وخت په اوږدو کې مختلف لوی افرادو سره څو مرکې وکړئ چې سټرې کونکې کیدی شي. زغم ولرئ.

که تاسې د پوښتنې ځواب کولوکې کوم مشکل لرئ، که تاسې ډیر ویریدلي یې، شرمیږئ، ښه نه یې، یا کوم څه مو په یاد نه وي، نو تاسې یې باید تشریح کړئ. سمه ده چې داسې ووایی "زه اوس نشم کولی پدې اړه وغږیږم."

که تاسې کوم څه ونه وایی نو مرکه کونکی شخص به پوهه نشي، او دا مهم دي چې هغه پوهه شي.





- پدې اړه اندیښنه مه کوئ چې کوم څوک به قار شي یا فکر وکړي چې ته بې ادب یې
- که تاسې په ښوونځي یا ستا د پاملرنې کورکې مقرراتو باندې پوهیدو سره مشکل لرې – نو پوښتنه وکړه









- مهمه ده چې معلومات شریک کړئ او باید صادقانه اوسئ
- هرڅومره ډیر چې کولی شئ پوښتنې وکړئ اوکه چیرې دکوم څه سره موافقت نلرئ نو ووایی

# وکیل

## هغوی څوک دي

وکیل هغه څوک دی چې **قانون پیژني** او وربانديې **پوهیږي.** د مهاجرت وکیل هغه قوانین پیژني چې دکورنیو چارو وزارت (Home Office) یې ستاسې د پناه غوښتنلیک په اړه پریکړه کولو لپاره کاروي، مګر نور وکیلان هم شتون لري چې د مثال په توګه د **جزا قانون، د کورنۍ قانون،** یا د **ټولنیز خدماتو قانون** بانديې پوهیږي.

## هغوی څه کوي

وکیل ستاسې لپاره کارکوي. وکیل به تاسې سره مرسته وکړي پوهه شئ چې څه به پیښ شي کله چې تاسې د پناه (asylum) پروسې څخه تیریږئ، او څنګه مختلف **قوانین** او **طرزالعملونه** ستاسې وضعیت بانديې پلي کیږي. هغوی اړ دي پوهه شي چې تاسې سره څه پیښ شوي دي ترڅو دغه چارې پرمخ ویسي. هغوی باید هغه څه ته غوږ ونیسي چې تاسې ته پیښ شوي دي.

هغوی به تاسې سره **څو ځله ووینې** کله چې ستاسې د پناه ادعا چمتوکوي ترڅو په هرهغه څه پوهه شي چې تاسې سره پیښ شوي دي. که تاسې د خپل وکیل په خبرو نه پوهیږئ، یا هغې سره د غږیدو څخه ویره لرئ یا شرمیږئ، نو تاسې یې بایدکوم چا ته ووایی. تاسې ممکن وکولی شئ دکوم بل وکیل سره کار وکړئ.

ستاسې وکیل باید **ستاسې د تجربې** هغه برخو پیژندلوکې مرسته وکړي کومې چې ستاسې د پناه ادعا لپاره مهمې دي. هغوی باید د مهاجرت چارواکو او پولیسو سره ستاسې ټولو رسمي مرکوکې تاسې سره موجود وي او ډاډ لاسته راوړي چې تاسې په **وخت معلومات وړاندې کړئ.**

ستاسې وکیل باید ستاسې د پناه غوښتنلیک بانديې کارکولو لپاره له **تاسې څخه د پیسو غوښتنه ونکړي.** هغه باید ستاسې په استازیتوب دولتي ادارې څخه ستاسې د قضیې چمتو کولو لپاره د "قانوني مرستې" په نوم د پیسو غوښتنه وکړي، مګر دا پدې معني نده چې هغه د دولت لپاره کارکوي.





# مناسب یا مسؤل لوی فرد

## هغوی څوک دي

یو مناسب لوی فرد یا مسؤل لوی فرد هغه شخص دی څوک چې د **مرکې** پرمهال د یوه ماشوم د **حقونو** او **ښیګڼې** محافظت کوي.

## هغوی څه کوي

یو مناسب لوی فرد به تاسې سره مرکو ته ځي لکه ستاسې **د پناه غوښتنې مرکه**، د **عمر ارزونه** (دا ستاسې د عمر په اړه پریکړه کولو لپاره یوه رسمي پروسه ده)، د پولیسو مرکه. هغه تاسې ته خپلواک ملاتړ وړاندې کوي، د مرکه کونکي توجه ستاسې اړتیاو ته اړوي، او ډاډ لاسته راوړي چې تاسې په هغه څه پوهه شئ چې پیښیږي او وکولی شئ ارتباط ټینګ کړئ. یو مسؤل لوی فرد سرپرست والدین، ستاسې **ټولنیز کارکونکی**، د **مهاجرینو د ملاتړ سازمان کارکونکی**، یا سرپرست کیدی شي، مګر هغه بایدکوم داسې څوک وي چې تاسې یې پیژنۍ او باور ورباندې لرئ.





# دکورنیو چارو وزارت د قضیې کارکونکی

## هغوی څوک دي

دکورنیو چارو وزارت د قضیې کارکونکی (Home Office case worker) **به په مرکه کې د پناه** غوښتنې لپاره ستاسې د ادعا په اړه له تاسې څخه پوښتنې وکړي، ټول **هغه شواهد به وارزوي** چې تاسې یا ستاسې وکیل د خپلې ادعا په اړه وړاندې کوئ، او دا د **هغه معلوماتو** او **لاربنود** سره پرتله کوي چې دولت یې لري. هغه دا ټول هرڅه د دې پریکړې کولو لپاره کاروي چې تاسې ته په انګلستان کې د **پاتې کیدو** لپاره کوم ډول **اجازه** درکړل شي.

## هغوی څه کوي

دا مهم دي چې تاسې د امکان تر حد پورې د قضیې کارکونکي ته د خپلې پناه غوښتنې ادعا په اړه **ډیر معلومات** ورکړئ. د قضیې کارکونکی باید تاسې ته د راحتۍ احساس درکړي او تاسې سره مرسته وکړي چې د پوښتنې کولو ستاسې ځوابونو ته غوږ نیولو له لارې تشریح شي چې څه پیښ شوي دي. له **ویرې پرته** د قضیې کارکونکي ته هر هغه څه ووایی چې تاسې ته پیښ شوي – که چیرې تاسې هغه ته ونه وایی نو هغه کومه جادوی طریقه نلري چې پدغه هرڅه باندې پوهه شي! دا هم خورا ډیر مهم دي چې تاسې تل رښتیا ووایی اوکه چیرې دکوم څه د ځواب په اړه نه پوهیږئ، یا ډاډه نه یې نو ووایی. د **قضیې کارکونکي پریکړه نهایی نده** ځکه چې تاسې د استیناف غوښتنې (appeal) حق لرئ.

که تاسې د ملي ارجاع میکانیزم (National Referral Mechanism (NMR)) ته راجع کړی شئ نو بیا به دکورنیو چارو وزارت افسر بل قضیې کارکونکی پریکړه وکړي چې آیا هغوی فکرکوي چې تاسې د انساني قاچاق سره مخ شوي یې. دا پریکړه باید جلا وي، مګر د هرې پریکړې په اړه معلومات د مختلف قضیې کارکونکو ترمینځ شریکیدی شي.







# د پولیسو افسر

## هغوی څوک دي

د پولیسو افسر (police officer) د خلکو د خوندیتوب، په انګلستان کې د قانون د تعقیب څخه ډاډ لاسته راوړو، او د جرمونو د پلټلو مسؤلیت په غاړه لري. د پولیسو افسران هم باید قانون تعقیب کړي.

## هغوی څه کوي

که تاسې د خطر سره مخ یې یا اړ یې چې د جرم په اړه راپور ورکړئ نو تاسې باید هرځومره ژر چې کولی شئ د پولیسو سره وغږیږئ. ۹۹۹ ته تلیفون وکړئ.

که تاسې د پولیسو سره غږیدو څخه ویره لرئ یا نه غواړئ چې خپل شخصي معلومات ورکړئ نو بیا بل لوی فرد سره چې تاسې ورباندې باور لرئ وغږیږئ. د جرمونو په اړه ستاسې د شخصي معلوماتو ورکولو پرته هم راپور ورکول کیدی شي.

په انګلستان کې د جزا قانون ممکن ستاسې د خپل هیواد د جزا قانون سره **توپیر** ولري. د مثال په توګه، په سړک یا کوڅه کې سګرټ غورځولو له امله تاسې جریمه کیدی شئ. د خپل ټولنیزکارکونکي یا بل لوی فرد څخه پوښتنه وکړئ چې د قانون په اړه پوهاوي کې تاسې سره مرسته وکړي.

که په تاسې د جرم تور پورې شي نو تاسې حق لرئ چې د پولیسو لخوا مرکه کیدو پرمهال د ځان سره وکیل ولرئ.

که بل چا تاسې اړکړي اوسئ چې جرم وکړئ نو بیا **تاسې** قرباني یې، او **تاسې** مرستې **او خوندیتوب ته اړتیا لرئ**.

په یاد ولرئ: که تاسې د پولیسو سره غږیدو په تړاو ویره لرئ، نو بل داسې لوی فرد سره **چې تاسې ورباندې** باور لرئ وغږیږئ.

# ټول ماشومان یوشان حقونه لري

- زما د غږ اوریدل کیدو حق
- د استوګنځي، خواړو او پاملرنې حق
- د تاوتریخوالي او ناوړه چلند څخه د خوندیتوب حق
- د ډاکټر/غاښونو ډاکټر سره د لیدنې او وړیا د طبي مرستې ترلاسه کولو حق
- د وړیا، بشپړ وخت د تعلیم حق
- د نه توقیف کیدو حق
- د زما دکورنۍ موندلو حق
- د نه تبعیض کیدو حق
- د غتیدو سره سم په بشپړ ډول د وده کولو حق

**حقیقت:** د انګلستان د قانون له مخې، یو شخص ترهغه وخت پورې ماشوم دی چې د ۱۸ کلونو عمر ته ورسیږي. ځایی اداري قانوني مکلفیت لري چې دکورنۍ نلرونکي ماشوم تر ۱۸ کلنۍ پورې پاملرنه وکړي، او په ځینې شرایطوکې لدغه عمر ورهاخوا هم د هغوی ملاتړ وکړي. د همدې لپاره انګلستان ته یوازې راغلي ماشومان چې د پناه غوښتنه کوي پاملرنه یې کیږي.



تاسې حق لرئ چې د هرډول فزیکي تاوتریخوالي، رواني تاوتریخوالي، استثمار یا غفلت څخه خوندي او محافظت شئ. که:

- کوم څوک تاسې ته زیان رسوي
- لوی فرد لکه څنګه چې باید وي هغسې ستاسې پاملرنه نه کوي
- کوم څوک تاسې اړکوي چې د هغې لپاره کار وکړې یا داسې څه وکړې چې ته نه غواړې ترسره یې کړې
- تاسې د هغه ځای څخه بهر وتلو آزادي ونلرئ چیرته چې اوسیږئ *
- کوم څوک وایی چې هغه تاسې یا ستاسې کورنۍ سره بدکارونه کولی شي
- تاسې آزاد نه یې ځکه چې دکوم چا پور وړی یې، یا
- دکوم بل دلیل له امله ویره لرې...

... دلته داسې خلک شته چې ستاسې مرسته کولی شي، مګر تاسې باید باور وکړئ اوکوم چا ته ووایی. پدې جزوه کې راوړل شوي خپل ټولنیزکارکونکي، سرپرست پاملرنه کونکي یا کوم بل شخص ته ووایی د هریوه سره چې تاسې د راحتۍ احساس کوئ، یا د دې جزوې په شا کې ورکړل شوي شمیرو ته تلیفون وکړئ.




* ځینې وختونه چې کله ځایی اداره فکرکوي چې په انګلستان کې یو لوی فرد دی چې ستاسې لپاره خوندي ندی چې اړیکه ورسره ولرئ، نو هغوی شاید د دې لپاره چې تاسې خوندي او مصؤن اوسئ د یوې مودې لپاره په تاسې محدودیت وټاکي چې چیرته تللی شئ او څوک لیدلی شئ.  هغوی باید دا موضوع تاسې ته تشریح کړي.  که تاسې خوشحاله نه یې یا اندیښنه لرئ نو تاسې لاهم کولی شئ د دې موضوع په اړه د خپل وکیل یا بل لوی فرد سره وغږیږئ.

# ټاکل شوی ښوونکی

## هغوی څوک دي

ټاکل شوی ښوونکی (designated teacher) ستاسې ښوونځي یا کالج کې هغه ښوونکی دی څوک چې د ځایی اداري لخوا پاملرنه کیدونکي ماشومانو **مسؤلیت** لري. هغه ممکن تاسې ته کوم درسونه درنکړي. هغه ممکن ستاسې د **وضعیت** په اړه یوڅه معلومات ولري مګر شاید ستاسې دکورنۍ مخینې او دا چې ولې ستاسې پاملرنه کیږي پدې اړه شخصي شیانو باندې پوهه نه وي.

## هغوی څه کوي

ټاکل شوی ښوونکی به ستاسې ښوونځي یا کالج سره **مرسته** وکړي چې ستاسې **ملاتړ** وکړي او ستاسې اړتیاوې پوره کړي، وګوري چې تاسې په سم ډول څه کوئ او تاسې څنګه زده کړه کوئ. هغه به ډاډ لاسته راوړي چې ستاسې ښوونځی/کالج په هغه مسایلو پوهه شي چې شاید ستاسې **تعلیم** باندې **اغیزه کوي** او هغه به د دې ریکارډ وساتي څه چې تاسې کوئ. هغه به ستاسې د شخصي تعلیم پلان (PEP) (Personal Education Plan (PEP) مسؤلیت هم ولري.

ټاکل شوی ښوونکی به په منظم ډول ستاسې ټولنیزکارکونکي سره پدې اړه **غږیږي** چې تاسې **ښوونځي** کې څنګه پرمخ ځئ. ستاسې ټاکل شوی ښوونکی باید **نورو زده کونکو** ته ونه وایی چې تاسې پاملرنه کیږئ، یا د هغوی په مخ کې باید تاسې سره **توپیري** چلند ونکړي.





# تراپيسټ

## هغوی څوک دي

تراپيسټ (therapist) (يا رواني درملنه کونکی) هغه څوک دی چې د خلکو سره مرسته کوي په **سټريس** يا نورو **ستونزو** برلاسي شي کله چې د مشکل وختونو سره مخ وي. د تراپي له لارې، خلک د خپلو ځانونو په اړه پوهه لاسته راوړي او په **مشکلاتو** د برلاسي کيدو يا په خپل ځان يا خپل اوضاع کې بدلونونو راوستلو لپاره لارې مومي. ډيری وختونه، يوازې د يو چا سره غږيدل هم ښه احساس را په برخه کوي.

## هغوی څه کوي

هغه شيان چې **تاسې سره ستاسې خپل هيوادکې پيښ شوي دي**، انګلستان ته راتګ پرمهال پيښ شوي دي، يا حتی دلته راتګ وروسته پيښ شوي دي، د دې لامل کيږي چې تاسې مشکل احساسات تجربه کړئ. تاسې ممکن د خفګان، قار احساس وکړئ يا په مشکل سره ويده شئ. تاسې ممکن لا هم د ډيرې ويرې او **وحشت** احساس وکړئ. د تراپيسټ سره کارکول تاسې سره مرسته کولی شي چې په خپلو احساساتو پوهه شئ او زده کړئ چې څنګه يې بندکړئ او برلاسي شئ ورباندې. دا تاسې سره مرسته کوي چې خپل ورځني ژوند او خپل راتلونکي باندې تمرکز وکړئ. ستاسې تراپيسټ همدارنګه کولی شي **شواهد** هم ورکړي چې ستاسې د **پناه غوښتنې ادعا** کې مرسته کولی شي، که تاسې ورسره موافقت ولرئ. که تاسې فکرکوئ چې غواړئ د تراپيسټ سره وغږيږئ نو د خپل سرپرست پاملرنه کونکي، ټولنيزکارکونکي يا خپل وکيل څخه غوښتنه وکړئ.







# د بیاکتنې خپلواک افسر (لاوډسپیکر) (IRO)

## هغوی څوک دي

د بیاکتنې خپلواک افسر (IRO) ډاډ لاسته راوړي چې **ځایی** اداره هغه څه کوي د څه کولو لپاره چې مسؤلیت لري کله چې تاسې د هغوی په پاملرنه کې اوسئ. IRO د دې ډاډ لاسته راوړو مسؤلیت په غاړه لري چې ستاسې ټولنیز خدماتو ځای **ستاسې لپاره سم دی،** او دا چې تاسې **خوشحال** یې. IRO **خپلواک** دی او د ټولنیزکارکونکو څخه **جلا** دی.

## هغوی څه کوي

IRO باید چیک کړي چې ستاسې د پاملرنې پلان ستاسې د **راتلونکي** لپاره سم دی، او دا چې هرڅوک هغه څه ته غوږ ونیسي چې تاسې وایی او په توجه سره یې ملاحظه کړي، او دا چې هرڅوک د پلان خپله برخه پرمخ وړي. تاسې باید خپل IRO سره لږترلږه په **هرو شپږ اونیو کې ملاقات** وکړئ.

که چیرې ستاسې پاملرنه کې کوم مشکلات وي نو مهمه ده چې تاسې یې باید خپل IRO ته ووایی، که تاسې فکرکوئ چې ستاسې ټولنیزکارکونکی تاسې ته غوږ نه نیسي، یا داسې **مشکلات** دي چې **حل شوي ندي**.





# ګټور تلیفون شمیرې او ویب پاڼې

په عاجل او اضطراري حالاتوکې: په ۹۹۹ پولیسو، امبولانس یا اطفایه ته تلیفون وکړئ.
"وړیا یا د لګښت پرته ژباړونکي شتون لري"

---

که تاسې ویره لرئ، یوازې یې، اندیښنه لرئ، خفه یې، ګنګس یې یا یوازې مشورې ته اړتیا لرئ: هروخت کولی شئ په 0800 1111 شمیره د ماشومانو لیکې ته وړیا تلیفون وکړئ یا د https://www.childline.org.uk/ څخه لیدنه وکړئ

---

د وړیا ملاتړ، مشورې او معلوماتو لپاره په ځانګړې توګه په پاملرنه کې ماشومانو لپاره یا هغه چې دکور څخه لیرې ژوندکوي: په 0800 528 0731 شمیره د ماشومانو دکمیشنر مشورې لیکې "د لاس په سر مرسته" ته (د دوشنبه څخه تر جمعه سهار ۹ څخه تر ماښام ۵ پورې) تلیفون وکړئ یا د http://www.childrenscommissioner.gov.uk/learn-more/help-at-hand څخه لیدنه وکړئ

---

که تاسې جبري کارکولو ته اړکیږئ یا داسې شیانو ته چې تاسې نه غواړئ وې کړئ، که تاسې آزاد نه یې د هغه ځای څخه وځئ چې ژوند پکې کوئ، که کوم څوک تاسې یا ستاسې کورنۍ ګواښي، که تاسې ته زیان رسیږي، یاکوم څوک تاسې په کومه بله طریقه یا لاره کنټرولوي: نو هرکله په 08000 121 700 شمیره د مشورې لپاره د عصري مریتوب یا غلامۍ مرستې لیکې ته تلیفون وکړئ

---

که تاسې د ملتیا نه لرونکي ماشوم پناه غوښتونکي په حیث مشورې او ملاتړ ته اړتیا لرئ: په 020 7346 1134 د مهاجرینو کونسل د ماشومانو برخې سره اړیکه ونیسئ یا children@refugeecouncil.org.uk ته بریښنالیک ولیږئ

---

تاسې ته څیرمه د مرستې لټولو لپاره: www.miclu.org/servicesmap

**If you are an adult and you want to help a child who you think might have been trafficked or is in danger of exploitation, or if you would like to understand more about the asylum process, you can find useful information below:**

**NSPCC's Child Trafficking Advice Centre:**
www.nspcc.org.uk

**NSPCC have a helpline 0808 800 5000 and email too:**
www.nspcc.org.uk/preventing-abuse/child-abuse-and-neglect/child-trafficking

**Every Child Protected Against Trafficking (ECPAT):**
www.ecpat.org.uk

**Coram Children's Legal Centre – Migrant Children's Project:**
www.childrenslegalcentre.com/about-us/what-we-do/migrant-childrens-project

Design by www.theportcreative.com

December 2017